**خـــــــــــورشید عطائی**

تورونتو ــ ۲۱ فبروری ۲۰۱۵


# بلنه

د مینـــــــــي شاهینشاه آزادانه راځه راځه  د شمعـــي سرو لمبو ته پروانه راځه راځه

د پیغلو په سندرو کـــــــي نغمي دي د بلني  بلني ته د ښکـــــــــلو، مستانه راځه راځه

چمن چي دی بي خونده بلبلان تری کوچیدلي  سپرلــــــي سره د میني جانانه راځه راځه

زما او ستا قصه چي د هر چا پر شونډو ناځي  چـــي ورکه دا قصه شي شبانه راځه راځه

دا ستا په متو جـــوړه د پردو ښکلي دنیا شوه  د خپلو سره وکــــــــړه یارانه راځه راځه

دا کور دي د نیکونو بیا له سره یي ودان کړه  جونګـــړي ته دي بیرته دوستانه راځه راځه

دوستی د دوښمنانو کي خطـــر د بربادی شته  د خپلـــــو سره مل شه ځورډانه راځه راځه

مثل دی د مشرانو پردی کټ تر نیمو شپو وي  زړه مه تره په کـــــور د بیګانه راځه راځه

سپرلی دی په هر لوري نوروزي میلي جوړیږي  محفل د خوشالـــــــی ته نازدانه راځه راځه

چي مسته په شرابو د وطـن له میني ګرځي

خورشید ته ورکـــړه بله پیمانه راځه راځه